افغانستان

واک او د واک د مشروعیت ستونځه

" د ۲۰۱۴ کال په ټولټاکنو کې  ولسمشرۍ څوکۍ ته دوو نو ماندانو ( ټیمونو) دیوه ناروا سیاسي جوړ جاړي په  ترڅ کې چې د سیاسي موافقتنامې په نوم یادیږي، د ولسواکۍ اصل تر پښنو لاندې کړی ؛ له اساسي قانون نه یې ښکاره اوبربنډه سرغړونه کړې او په لوی لاس یې په هیواد کې د واک،  د واک د مشروعیت او په ټولیزه توګه د اسا سي قانون دنظام بحران را منځ ته کړی دی.  "

**

"د افغانستان په اسا سي   قانون کې، ولسمشر ته په  اساسي قانون کې دبدلون، تعدیل اویاهم د  لویې جرګې تر جوړیدو پورې داساسي قانون دکوم فصل او مادې د تعدیل یا تعلیق واک او صلاحیت نه دی ورکړل شوی. ولسمشر دا واک لري چې دملي شورا د رخصتیو په وخت کې تقنیني فرمان صادر کړي خو، په اساسي قانون کې دتعدیل په باب دیوه داسې فرمان د صادرولو حق اوصلاحیت نه لري. په اساسي قانون کې هرډول بدلون اوتعدیل یوازې او یوازې د لویې جرګې ځانګړی واک او صلاحیت دی."  داکتر طلا پامیر

2016 /11 /19

په اروپا کې د افغان حقوقپوهانو دټولنې په علمي کنفرانس کې د وینا بشپړ متن

هم مسلکان فرهیخته، شخصیت های ارجمند علمی واجتماعی حاضر در تالار کنفرانس. نخست اجازه میخواهم که از رهبری انجمن حقوقدانا ن افغان در اروپا بخاطر دعوت من برای اشتراک و سخنرانی دراین کنفرانس با اهمیت ابراز سپاس نمایم. شکی نیست که این کنفرانس علمی وکنفرانس های که در آینده در راستای اهداف انجمن سازماندهی خواهند شد، بر بلند بردن سطح آگاهی وشعور حقوقی مردم افغانستان و تشویق مساعی ومبارزه  برای صلح وثبات سیاسی، استقرار یک نظام دموکراتیک ،مشروع وعادلانه  و حاکمیت قانون در کشور اثر قابل لمس خواهند داشت.

من به نوبه خود ومطابق دستور کار کنفرانس امروز، می خواهم بحث مشروعیت قدرت در افغانستان را باز کنم . دیدگاه واندوخته های خویش را در باب چیستی و چند وچون مشروعیت قدرت دولتی و چالش ها در شریط کنونی کشور را با شما دانشمندان ارجمند وهموطنان عزیز شریک سازم. عرایض من زیر عنوان " افغانستان - واک او د مشروعیت ستونځه " به زبان پشتو خواهند بود.

دکنفرانس درنو برخه والو!

نیږدې څلور لسیزې کیږې چې افغانستان دواک او دواک د مشروعیت له ستونځې – بحران سره مخامخ دی.

په ورستیو کلونو کې زمونږ په جنګ ځپلي هیواد کې د ددولتي او ټولنیزو نهادونو د بیا رغولو اد دیوه دموکراتیک نظام د جوړولو په مخه د نړیوا لې ټو لنې په پو ځي، سیاسي او ما لي ملاتړ یو لړ اړ ینې تګلارې جوړې او څه ناڅه پلې شوې. د بن له کنفرانس وروسته په افغانستان کې دیوې مرکزي ادارې ( حکومت ) دجوړولو، ددو لتي پنستهونو د بیا رغونې اود نا قانونه وسله والو ډلو د بې وسلې کولو کار پیل شو. نوی اساسی قانون تصویب شو . دنو ي اساسي قانون بر بنا او دواک د مشروعت په مخه درې ځلې ټولټاکنې تر سره شوې او داسی نور.

اوس، افغانستان ټاکل شوی ولسمشر او دواک درې ګونې څانګې ، دفاعي او امنیتي بنسټونه لري خو له دې ټولو سره- سره زمونږ په ټولنه کې په راز راز علتونو تر اوسه هم دواک او دواک دمشروعیت ستونځه په بنسټیزه توکه هواره شوې نه ده. دلته، مخکې له دې چې پر ستونځو او علتونو یې و غږیږو، اړینه ده پوه شو چې له واک او د واک له مشروعیت څخه زمونږ مقصد څه دی . په بله ژبه، واک او دواک مشرعیت څه ته وایي؟

په ټولیز ه توګه، د واک معنا داده چې یوکس، یوه ډله ( یوګوند دبیلګې په توګه ) وکولای شي چې خپله اراده، ځواک او " استیلا " د ټولني په نورو وګړو و تپي او یایې ور باندې ومني؛

د زور نه کار اخیستل هم په خپل انحصار کې راولي داسې چې که کوم کس (وګړی) د واکمن له اراد ې او امر نه سرغړونه وکړي نو واکمن دا توان ولري چې څو وسله وال کسان سرغړونکی کس ته ولیږي او هغه دې ته اړ کړي چې د واکمن امر ته غاړه کیږدي. ( دا تعبیر د واک په اړوند د ماکس وبر له نظریې څخه اخیستل شوی دی).

اوس، که د غه  پر نورو ( تر واک لاند ې وګړو )  باند ې د واک منل د هغو ی په رضا ، خوښه او ملاتړ وي نو داسې واکمنۍ ته مشروع واکمني وايي.  په دې توګه، مشرع واکمنی یانې د ولس په خوښه او یا د ولس له لوری منل شوې واکمني.

ماکس وبر د واک د مشروعیت در ی بڼې په ګوته کوي:

لمړی ـ سنتي مشروعیت

دویم- کاریزما تیک مشروعیت

دریم- عقلاني – قانوني مشروعیت

مشروع واکمني هرو – مرو د قا نون سره سمه یا دقانون بر بنا وا  کمني نه ده. واک او وا کمني کیدای شي مشروعیت ولري ( د ټولنې د اکثریت وګړو ملاتړ ولري )  خو نا قانونه وي.

 د بیلګی په ټوګه ، د ټولیز انقلاب په حالاتو   کې چې بنا یي د ټو لنې یو ستر اکثریت له انقلاب او د انقلابي ډلې له تګلارې ( ستړا تیژۍ نه ملاتړ وکړي خو پخپله دغه انقلا بي حرکت یا نې د زاړه( پخواني) دولتې نظام نسکورول په ټولنه  کې د مر  عي الاجرا قوانینیو پر خلاف عمل ګڼل کیږ ي. په د ې وجه، ویلای شو چې مشروعیت او قانونیت سره له دې چې ګډه ریښه ( Lex ) لري، په سیاسي او حقوقي ادبیاتو (تیوری) یو شان، یو د بل مترادف او معادل نه کارول کیږي.

 مشروعیت سیاسي او اخلاقي  ارزښت دی او قانونیت  حقوقي اړخ لري. په لاتین ژبه کې د مشروعیت معادل (Legitimus) او  دقانونیت معادل  ( Legalis) دي. په انګریزی کې همداشان د مشروعیت او قانونیت لپاره دوه بیل لغتونه(  Legitimacy, Legality  ) شته.

دواک د مشروعیت نظریې لکه د نورو فلسفي، سیاسي او حقوقي نظریو په څیرد نسلونو او بیړیو په اوږ دو کې د معنا او پو هاوي له مخې تحول کړی دی.
نن، د ځینو ګوتو په شمار هیوادونو څخه برته چې پر سنتي مشروعیت ولاړ دي، د نړۍ ډیرو ځپلواکو هیوادونو په خپلو اساسي قوانینیو کې د ولس رایه او غوراوی د مشروعیت د تر لاسه کولو لپاره د یوازنۍ لارې په ټوګه منلې او تسجیل کړي ده؛ په اساسي قوا نینیو کې د مشروعیت د تر لاسه کولو لارې- چارې، میکانیزم اوبهیر (پروسیجر) هم په پام کې نیول شوي دي.

په نړیواله کچه، د خپلواکو دولتونو په کورنیو چارو کې د نه لاسوهنې د اصل په پام کې نیولو سره د نویو حکومتونو ( هغه حکومتونه چې د انقلاب ، کودتا اویا کوم  بل کورني بدلون په پایله کې واک تر لاسه کوي)  د مشروعت د منلو ( په رسمیت پیژندلو)  لپاره لږ تر لږه درې معیارونه په پام کې کیږي:

لمړی- داچې دغه نوی حکومت باید دکورني بدلول زیږنده وي نه د بهرني تیري او اشغال پایله.

دویم- نوی حکومت باید دملک په خاوره (قلمرو) باندې موثر کنترول ټینګ کړي. په بله ژبه، نوی حکومت وکولای شي چې د ملک په ټوله خاوره کې دولتی واکمنی (دولتی حاکمیت) پلی کړي.

دریم- نوی حکومت باید ددغه ملک نړیوالو الزاماتو (معاهدات) ته ژمن وي او د انسان (بشر) حقوقو ته درناوی ولري او تر پښنو لاندې یې نکړي. دیادونی وړ بولم چې نړیوالې ټولنې (ملګرو ملتونو) د تیري پیړۍ په نوي یمو کلونو کې د طالبانو د رژیم له منلو( د رسمیت پیژندلو) څخه په دې وجه ډه ډه وکړه چې طالب جنګیالیو په کابل کې د ملګرو ملتونو په حریم تیری وکړ او دافغانستان پخوانی ولسشر داکتر نجیب اود نوړی ورور یې چې هلته یې پناه اخیستې وه په بې رحمی سره په دار وځړا ول او وحشت یې خپورکړ. هغه وخت، ملګرو ملتونو دیوې وینا ( بیانیې) په ترڅ کې وویل چې که د طالبانو حکومت خپلې ځانګړې تګلارې او ارزښتونه لري نو ملګري ملتونه هم خپل ارزښتونه او معیارونه لري چې دهغوی پر بنا نشي کولای په افغانستان کې د طالبانو واکمني په رسمیت وپیژني.

درنو حاضرینو!

په افغانستان کې دواک او دواک د مشروعیت مسئله د احمد شاه بابا له زمانې (۱۷۷۳-۱۷۴۷ ) څخه را نیولې بیا د <u>**۱۳۸۳**</u> هـ.ش کال تر ټولټاکنو پورې ډیری هسکې- ټیټې لیدلې دي. دا ستونځه تر دیره په سنتي بنه( جرګه، بیعت ، میراث) او کله نا کله هم په زور سره هواره شوې ده.

د افغانستان په ټولو اساسي قوانینو کې – د  ( ۱۳۰۲ )کال دافغانستان د عالیه دولت په نظامنامه، د (۱۳۰۹)کال دافغانستان دعالیه دولت په اصولنامه، د افغانستان  د (۱۳۴۳)کال په اساسی قانون کې د ولس اراده اورایه د دولتي واکمنۍ سرچینه بلل شوې خو، پادشاهي میراثي ده او پاد شا د احترام وړ اوغیر مسئول کس ګڼل شوی دی. د لمړی جمهوریت په دوره ( ۱۳۵۲-۱۳۵۷)کې دولتی واک د یوی کودتا له لاری ترلاسه شو. سره له دې چې (۱۳۵۵)کال په اساسي قانون کې ملت د دولتي واکمنۍ سر چینه بلل شوې خو، مشروعیت له یوې سنتي لویې جرګې څخه واخیستل شو.

د (۱۳۵۷)کال دثور له آتمې څخه بیاتر( ۱۳۷۱)کال پوري دولتي واکمنۍ او مشروعیت ایدیالوژیکه ( طبقاتی ) بنه غوره کړه. وویل شول چې "دولت (حکومت) له انقلاب څخه مشروعیت اخیستی دی".

د ۱۳۷۱کال څخه بیا د ۱۳۷۵کال د میزان تر میاشتې پورې ( دافغان مجاهدینو- تنظیمونو او ټوپکسالارانو په دوره کې) په افغانستان کې ددولتي واک یوه ژوره او هر اړخیزه تشه را منځ ته شوه. په ۱۳۷۵ کال کې د طالبانو د تحریک په نوم یوې ډلې د جګړې له لارې واک تر لاسه کړ او مشروعیت شرعي رنګ واخیست.

سره له دې چې طالبانو په کم وخت کې دافغانستان پر ۹۰ سلنه خاوره خپل حاکمیت ټینګ کړ خو نړیوالې ټولنې له حقوقي اړخه ( De jure ) دطالبانو رژیم د بشر حقوقو او خپلو نړیوالو الزاماتو ته د نه پاملرنې په وجه په رسمیت ونه پیژانده. په ۱۳۸۰ کال کې د امریکې تر مشرۍ لاندې دیوه نړیوال ایتلاف ځواکونو د طالبانو رژیم په دې تور چې بن لادن او نورو تروریستانو ته یې پناه ورکړې، را پرځاوه او واک یې د بن د کنفرانس د پریکړو پر بنا د بناغلی حامد کرزي تر مشرۍ لاندی دافغانانو یوې لنډ مهاله اداري ته ولیږداوه.

دبن له کنفرانس نه په را دې خوا کلونو کې نړیوالی ټولنی هڅه وکړه چې زمونږ په هیواد کې د نظام جوړونې امریکایي نسخه پلې او دواک د مشروعیت ستونځه په دموکراتیکه بنه ( د ټولټاکنو له لارې) هواره کړي. په دی بهیر کی څه ناڅه لاسته راوړنې شته. دافغانستان نوی اساسي قانون تصویب شو او دهغه پر بنا درۍ ځله ټولټاکنې تر سره شوې خو دواک او مشروعیت ستونځه لکه مخکې چې وویل شول په بنسټیزه توګه هواره نشوه . ددې لاملونه څه دي؟

زما په اند، په افغانستان کې دواک اود واک د مشروعیت ستونځه یولړ بهرني او کورني عوامل لری لکه:

- دبیا رغونې او د نظام جوړونې د نظریې په پلي کولو کې د نړیوالې ټو لنې تیروتنې او په هغه شمیره کې د افغانستان دسیاست، واک (قدرت) او مشروعیت قو مي کول؛ د نویو ارزښتونو او د نوې دولتي اداري "Establishment " تر منځ تضاد او نا همغږي.
- د واک نا قانونه ویش؛ د اساسي قانون د نظام ماتول
- جګړه ؛

- دافغانستان د سیاسي اودولتي ایلیت تر منځ د افغانستان دسترو ملي مسالو اوپه هغه لړ کې د دولتي واکمنۍ په باب د یوه ګډ نظر او ستراتیژۍ نشتوالی؛ په ټولیزه توګه، زمونږ د ټولنې په وګړو کې د ملت په توګه د ځان پیژندنې ډیره ټیټه کچه.
- دولتي واک ته دجګړه مارانو ( Warlords) او جنا یتکارو ډلو لاره موندل؛
- اداري فساد او پلان شوي جرمونه؛
- د قانون د حاکمیت نشتوالی؛ د زور او زرو د خاوندانو قضایي معافیت؛
- له ولس سره د دولتي واکمنو د ژمنو نه عملي کیدل اونور

زه غواړم دلته پرځینو دغو لاملونو لږ څه رڼا واچوم.

**الف-** دبیا رغونې او نظام جوړونې د کانسپت په تطبیق کې د نړیوالې ټو لنې تیروتنې - د افغانستان دسیاست، واک (قدرت) او مشروعیت قومي کول.

د بن په کنفرانس کې چې د طالبانو د واکمنۍ تر نسکورړلو ورسته د ( ۲۰۰۱ م کال د نوامبر له ۲۷ مې نه د دسمبر تر ۱۵ مې پورې جوړشو، د بهرنیو لو بغاړو لخوا په ډیره بیړه زمونږ په جنګ ځپلې هیواد کې دنظام جوړونې لمړنۍ تیږه کږه کیښودل شوه. **د بن کنفرانس دافغانستان سیاست، واک او مشروعیت قومي کړل؛ یو موټي ملت یې د متساوی الحقوقو وګړو ( وطنوالو- شهروندانو ) پر ځای په قومونو وویشه چې د شمیر له مخې برابر اومساوي نه دي نو ځکه په واک کې دقومي متناسبې ونډې (سهمیه) اصل په پام کې ونیول شو** . دغه قومي سیاست دافغانستان پر ټولنیز ذهنیت ا و د افغانستان پرنوي اساسي قانون هم دروند سیوری واچاوه.

د اساسي قانون د (۴ ) مادې په دریمه فقره کې راغلي دي چې " **د افغانستان ملت له پښتون، تاجك، هزاره، ازبك، ترکمن، بلوچ، پشه یې، نورستاني، ایماق، عرب، قرغیز، قزلباش، ګوجر، براهوي او نورو قومونو څخه خه جوړ دی** "

دا شان " فرمولبندی د نړۍ په بل هیڅ اساسي قانون کې نشته په داسې حال کې چې په ننني نړۍ کې سوچه یو قومي هیوادونه د ګوتو په شمار دي.

اوس که د دغه مادې لمړۍ برخې (فقرې) ته ورستانه شو، وینو چې ستونځه چیرته ده. د اساسي قانون د ۴ مادې په لمړۍ برخه کې لیکل شوي چې " په افغانستان کې ملي حاکمیت په ملت پورې اړه لري چې په مستقیم ډول یې پخپله او یایې د خپلو استازوله لارې عملي کوي. "

د صوري منطق پر بنا، د اساسي قانون د څلورمې مادې د دوو پورتنیو حکمونو نتیجه دا ده چې :

په افغانستان کې ملي حاکمیت په قومونه پورې اړه لري او هغه هم په هغه ترتیب او ایرارشۍ سره چې په دغه ماده کې درج شوي دي. یا نې داچې: **پښتون- اول، تاجك- دویم، هزاره- دریم، ازبك څلورم ، ترکمن- پنځم، بلوچ- شپږم، پشه یې - اووم، نورستاني- اتم، ایماق- نهم، عرب لسم، قرغیزی- یوولسم، قزلباش- دوولسم، ګوجر- دیارلسم، براهوي- څوار لسم او نورو قومونو- پینځه لسم .**

**اوس،** که په افغانستان کې د ولسمشرۍ او ملي شورا لپاره ټولټاکنې وشي او که ونه شي، د دولتي واک او د واک د مشروعيت هِرم (***Pyramid***) وار له مخه مالوم دی. که د ټولټاکنو پايلې بل څه وي نو بيا يې د دغه اويا هغه قوم محور چې ځای يې نن جګړه مارانو (جنګسالاران ) نيولی دی، نه مني؛ بعاوت کوي؛ دنظام مشروعيت تر پوښتنې لاندې راولي او دولت دې ته اړباسي چې دوئ ته د قانون خلاف امتياز او واک ورکړي ( تر ټولټاکنو وروسته حکومتونه- بيلګه). په دې توګه د واک نا قانونه ويش هغه دويم لوی عامل دی چې دولتي واکمني او د واک مشروعيت يې کمزوري کړي دي.

**ب- د واک نا قانونه ويش؛د اساسي قانون د نظام ماتول**

د افغانستان په اساسي قانون کې دولتي واک ددولت د درې ګونو څانګو ( مقننه قوه، اجرا ئيه قوه او قضائيه قوه ) تر منځ ويشل شوي دي. دا هغه څه دي چې ددولت او حقوقو په عمومي تيورۍ کې ورته دواک ويش " ***trias politica*** " وايي. دغه د واک در ې ګونې څا نګې نه يوازې د اساسي قانون په کچه تسجيل شوي بلکه په عمل کې شتون لري او واکونه هم په اسا سي قانون او هم په نوروقوانينو او اړونده کړنلارو( طرزالعملونو) کې واضح او روښانه دي . ددې مانا داده چې دولتي واک په يوه دولتي بنسټ او يوه لاس کې را غونډ (متمرکز) نه دی.

ولسمشر ټولواک نه دی. د ولسمشر ډير واکونه د مقننه قوې( ملي شورا) په هوکړه اوتايد سره مشروط دي. ولسمشر مقننه قوې ته مسئول دی خو د مقننه قو ې د ړنګولو واک نه لري. دا دواک قانوني ويش دی چې ټولو ته بايد دقناعت وړ وي او ويې مني.

## د افغانستان ستونځه د واک "تمرکز" نه بلکه دواک نا قانونه ويش دی.

د واک د ويش په کانسپټ کې خبره د دولتي بنسټونو ( دولتي نهادونو) تر منځ د واکونو دويش او تفکيک پر سر ده خو، زمونږ په ملک کې هرڅه سرچپه اوځانګړی تعريف لري. د واک له ويش څخه د افغانستان دسياسي اودولتي ايليت پوهاوی دا دی چې واک بايد دقومونو، تنظيمي او سياسي ډلو ټپلو تر منځ وويشل شي چې په واقعيت کې د قومي اوتنظيمي زور واکانو (افرادو) تر منځ د واک ويش دی.

د واک دويش په اړوند همدغه ناسم پوهاوئ په نظام کې د شخړو او تاوتريخوالي لامل ګرځيدلی دی.

يوکس او يوه ډله وايي چې مونږ جهاد کړی، بل کس وايي چې زه ديوه قوم اويوې سيمې مشريم . داعلت دی چې نن زمونږ په ټولنه کې د دولت درې ګونې ځانګې اوټول دولتي بنسټونه قومي او تنظيمي شوې دی. پر دې سربيره، د دغو درې ګونو قواوو تر څنګ د واک جلا جلا اوغير قانوني مرکزونه هم شتون لري. ځينې کسان اوډلې سره له دې چې په نظام کې ځای ورکړل شوي اورسمي دندې ورپه غاړه دي ، پټ اوښکاره، پوځي او نيمه پوځي وسله وال ټولګي او ګا ردونه لري. دغه کسان اوډلې دخلکو په اصطلاح په هيڅ قانون " بند- واز" نه د ي . دولتي واکمني (حاکميت) ننګوي، د وګړو پر حقوقو په

سیستماتیک ډول تیری کوي، په فساد، دنیشه يي ټوکو او وسلو په کار- بار، د دولتي ملکیت – ځمکو په غصب اوپه نوروپلان شویو جرمونو کې ښکیل دي چې داټول دولتي واکمني کم زوری کو ي اود نظام مشروعیت ته زیان رسوي.

د ولسمشر مرستیالان، اجرائیه رئیس، د ولسمشر ځانګړی استازی او ټول هغه نور لوړپوړي دولتي چارواکي چې د قومي ونډې پر بنا یې واک ته لاره موندلې ده، ځانونه د ولسمشر سیالان (همتا) ګڼي. هغوی " واجب الا حترام او غیر مسئول" کسان د ي؛ هم په دولت کې دي اوهم ددولت اپوزیسیون. دغه وضعیت دولتي نظام شنډ کړی دی.

دلته باید ډېرني ځواکونو هم هیر نکړو چې پخپل وار دواک یو جلا مرکز ګرځیدلي او د افغانستان ملي واکمني او دنظام مشروعیت یې ترپوښتني لاندې راوستي دي.

دواک دویش د ناسم پوهاوی په وجه د افغانستان د اساسي قانون او د ورستیوټولټاکنو د پایلو پر خلاف د **اجرائیه ریاست تر نامه لاندې دواک یوېله ځانګه جوړه شوې** چې نه قانویت لري اونه هم مشروعیت. قانونیت نه لري ځکه چې دافغانستان په اساسي قانون اونورو قوانینو کې داشان یو دولتي- اداري بنسټ (دوزیرانو شورا) اوځوکی چې عمومی واکونه او بودجه ولري،نه دي تسجیل شوي. مشروعیت نه لري ځکه، چې دا جوړښت (ساختار) او اجر ائیه رئیس دولس له لوري اویا ملي شورا لخوا نه دي ټاکل شوي او ولسي جرګې ته هم مسئولیت نه لري. دا په واقعیت کې یو غبرګ (موازي) ، د احترام وړ اونا مسئوله ( واجب الاحترام او غیر مسئول ) جوړښت (حکومت) دی.

د ملي یوالي حکومت د مشروعیت په باب هم د دولتي ایلیت تر منځ یو ګډ نظر نشته.

د اجرائیه ریاست په اند، ټولټاکنې بریالۍ نه وې او ولسمشر نه دی ټاکل شوی نو ځکه د ملي یووالي حکومت د هغې سیاسي موافقتنامې زیږنده ده چې په ټولټاکنو کې د دوه سیالو ډلو ترمنځ د امریکې د بهرنیو چارو د وزیر جان کیري په منځګړ توب لاسلیک شوه. د هغې موافقتنامې پر بنا، اجرائیه ریس خپل ځان د ولسمشرسیال ( همتا ) او په واک د ۵۰ سلنې برخې څیښتن بولي خو، بل اړخ ، دولسمشر تیم وایي چې : " ټولټاکینې بریالۍ وې. پایلې یې د ټولټاکنو د خپلواک کمیسیون له لوري اعلان شوې دي. داکتر اشرف غني ټاکل شوی ولسمشر دی؛ د ټولټاکنو له کمیسون څخه یې وثیقه تر لاسه کړې او د افغانستان د ټاکل شوي ولسمشر په توګه یې داساسي قانون سره سم لوړه( تحلیف) کړیده؛ اجرائیه ریاست خپل مشروعیت د ولسمشر له فرمان څخه ا خیستی دی. یانې داچې اجرا ئیه ریاست د حکومت (مقننه قوه) په چوکاټ کې او دولسمشر تر واک (صلاحیت) لاندې اداري بنسټ دی."

**اوس که د اجرائیه ریاست " روایت " ومنل شي، مانا یې دا ده چې نه یوازې د ملي یووالي حکومت بلکه ټول دولتي نظام د اساسي قانون د لمړۍ مادې سره د نه سمون په وجه مشروعیت نلري؛ د ملي یووالي حکومت دسیاسي موافقتنامې پر بنا یوه لنډ محاله یا منځمحاله اداره ده چې وخت هم سرته رسیدلی دی.**

په دې صورت کې باید لمړی دولسمشری اوملی شورا لپاره نوې ټولټاکنې ترسره شي. له دې پرته، داساسي قانون لویه جرګه که جوړه هم شي، د ملي یووالي حکومت ته مشروعیت نشي وربخښلی.

**د اساسی قانون پر بنا، د ټولټاکنو له لارې دملت رایه دنظام اودولتي واکنی د مشروعیت یوازنۍ لاره ده.**

د ولسشمر دتیم انګیرنې ترهغه ځایه پورې سمې دي چې ویل کیږي : دټولټا کنو پایله (نتیجه) روښانه ده او د ټولټاکنو کمیسیون د هغوټولو نیوکو او په ټولټاکنو کې د پراخودرغلیو ترڅیړلو وروسته چې د دواړو نوماندانو په ګټه شوې دي، ګټونکي نوماند ته د اساسي قانون او د ټولټاکنو د قانو ن سره سم، د بریالیتوب وثیقه ورکړل شوی او د ټاکل شوی ولسمشر لپاره د لوړ ې مراسم هم د افغانستان داساسي قانون سره سم پر ځایځ شوي دي خو، دا " تعبیر" چې اجرائیه ریاست او په ټولیزه توګه د ملي یو والي حکومت خپل مشروعیت د ولسمشر له فرامان نه اخیستی ، له حقوقي اړخه قناعت بخښونکی نه دی .

اجرائیه ریاست د یوه اداري بنسټ په توګه، په هغه بڼه او واکونو سره چې په سیاسي موافقتنامه کې تشریح شوي ، د اساسي قانون له حکمونو سره سمون نه لري. **پخپله، دغه سیاسي موافقتنامه (۱۳۹۳ کال د سنبلې ۲۹ مه) ، د وزیرانو د شور دجوړولو ، د اجرائیه ریاست او د اجرائیه ریاست د واکونو په اړوند د لسمشر (۳۵) ګڼه فرمان (۲۲ / ۹ / ۱۳۹۵) په زغرده د افغانستان د اساسي قانون سره په ټکر کې دي نو ځکه د هغه لمړي سر نه ( *Ab Initio* ) یانې د لاسلیک له تاریخ څخه د حقوقي اعتبار وړ نه دي.**

**د قانون ماتول قانون نه زیږوي( نقض قانون ، قانون را ایجاد نمی کند)**

دلته غواړم د سیاسي مواقفتنامې او د ولسمشر دفرمان ځینې برخې را واخلم او ګورو چې د افغانستان د اساسي قانون سره څومره همغږي لري.

په سیاسي موافقتنامه کې راغلي دي چې: " - تا زمان تعدیل قانون اساسی و ایجاد پُست صدر اعظم اجرایی، پُست رییس اجرایی بر اساس ماده پنجاهم قانون اساسی، ماده دوم اعلامیه مشترک و ضمیمه آن با فرمان رییس جمهور ایجاد می‌گردد. رییس اجرایی و معاونین اش در مراسم تحلیف رییس جمهور معرفی می‌گردند" ؛

" - به صفت رییس دولت و حکومت ، رییس جمهور کابینه را رهبری می‌کند. مجالس کابینه، نظر به صواب دید رییس جمهور روی استراتیژی، پالیسی‌ها، بودجه، تخصیص منابع و طرح قوانین، در پهلوی سایر صلاحیت‌ها و وظایف آن، دایر می‌گردد . **کابینه متشکل از رییس جمهور، معاونین رییس جمهور، رییس اجرایی، معاونین رییس اجرایی، مشاور ارشد و وزراء می‌باشد. رییس اجرایی مسوول تطبیق پالیسی‌های حکومت است که در کابینه اتخاذ می‌گردد و در مورد پیشرفت امور هم مستقیماً به رییس جمهور و هم در مجالس کابینه گزارش می‌دهد. به همین منظور، رییس اجرایی جلسات نوبتی هفته‌وار شورای وزیران را دایر می‌کند که متشکل از رییس اجرایی، معاونین رییس اجرایی و تمام وزیران می‌باشد. شورای وزیران، امور اجرایی حکومت را به پیش می‌برد. همچنان مجالس کمیته‌های فرعی شورای وزیران تحت ریاست**

**رییس اجرایي دایر می‌گردند. برمبنای این ماده موافقت‌نامه، رییس جمهور، طی یک فرمان، شورای وزیران را به عنوان یک نهاد نو و مجزا از کابینه، تعریف و اعلام خواهد کرد"**

دوزیرانو د شورا او اجرائیه ریاست په اړوند د ولسمشر په فرمان کې راغلي چې:

" به تأسی از مواد پنجم، پنجاهم و یک‌صد و چهل و دوم قانون اساسی کشور و با در نظرداشت مواد شصتم، شصت و چهارم، هفتاد و یکم و هفتاد و هفتم قانون اساسی و اجزای سیزده‌گانه‌ی فقره‌ی (ب) **موافقتنامه میان دو تیم انتخاباتی** در مورد ساختار حکومت وحدت ملی، ایجاد **شورای وزیران** را به عنوان **نهاد مجزا از کابینه**، با توجه به مراتب آتی، منظور می‌دارم" ؛

" شورای وزیران متشکل از رییس اجرائیه، معاونین رییس اجرائیه، وزرا و رؤسای اداره‌ی محیط زیست و اداره‌ی احصائیه ی مرکزی جمهوری اسلامی افغانستان می‌باشد."

په پورتنیو متنونو او "فورمولبندیو"کې څو ټکي د پاملرنې او تامل وړ دي:

**لمړی**- د اساسي قانون هغه مادې چې دلته د سیاسي موافقتنامې او د ولسمشر د فرمان د قانونیت بنسټ بلل شوې ، د سیاسي موافقتنامې او فرمان له موضوع سره چې د کابینې، د وزیرانو شورا او د اجرائیه ریاست په نامه دوه نوي (بیل) اجرایي بنسټونه دي، هیڅ اړیکه نه لري. وایي: " ده در کجا و درخت ها در کجا"

د اساسي قانون پنځمه ماده د دولتي اداري د کار دځرنګوالی ( د سالمې اداري د جوړیدو ) په اړه ده او تفسیر یې هم په همدغه ماده کې را غلی دی او هغه دا چې : دولتي اداره باید بې پرې وي او د قانون سره سم عمل وکړي؛ اطلاعاتو ته د افغانستان د وګړو لاس رسي تامین کړي؛ له هر راز تبعیض پرته د افغانستان اتباعو ته د هغوی د وړ توب پر بنا په دولتي اداره کې د کار زمینه برابره کړي.
د اساسی قانون په ۵ ماده کې راغلي چې: د دغه اساسي قانون او نورو قوانینو د حکمونو پلي کول ( تطبیق) د دولت له اساسي دندو څخه ده . **په بله ژبه دولت د دغه اساسي قانون د حکومونو له ماتولو اوسر غړونو څخه منع شوی‌دی.**
د اساسي قانون ۱۴۰ ماده د محلي اداري په باب ده او په ۱۴۲ ماده کې ویل شوي چې: دولت د دې اساسي قانون د احکامو دتعمیل او مندرجو ارزښتونو د تامین لپاره لازمې اداري جوړوي. په دغه ماده کې خبره د د دولتي ادارو (مرکزی اومحلی اداري) وزیرانو او ولایتونو پر سر ده چې هغه هم د ملي شورا په واک کې دي.

**دويم**- په سياسي موافقتنامه او فرمان کې د اجرائيه قوې ( حکومت ) او همدا شان د دولت د **ادارې** په باب پر روښانه او واضح حکومونو چې د اساسي قانون په **څلورم او آتم** فصلونو کې تسجيل شوي، خاورې اچول شوې. د اساسي قانو ن په **څلورم فصل** کې **حکومت** چې له وزيران څخه جوړ شوي هغه يوازنی دولتي بنسټ دی چې د ولسمشر تر مشرۍ لاندې د دولت د اجرا ئيه قوې دندې تر سره کوي. په اساسي قانون کې د **کابينې**، د **وزيرانو شورا** او **اجرائيه رياست** په نوم اداري بنسټونه (نهادونه) او مفاهيم نه دي راغلي.

**دريم**- په سياسي موافقتنامه او د ولسمشر په فرمان کې د حکومت نوم ديوه ذهني او مجرد مفهوم په توګه راغلی خو، په عمل کې د حکومت پر ځائ دوه نوي او جلا جلا اجرا ئيوی بنسټو نه ( **کابينه او د وزيرانو شورا** ) جوړ شوي چې کابينه د ولسمشر تر مشرۍ لاندې او وزيرانو شوراد اجر ائيه رئيس تر مشرۍ لاندې کار کوي. د **کابينې او وزيرانو شورا ترکيب** هم د حکومت دهغه تعريف سره چې په اساسي قانون کې راغلی دی، سمون نه لري.

**څلورم:** د افغانستان په اساسي قانون کې، ولسمشر ته په اساسي قانون کې د بدلون، تعديل اوياهم د لويې جرګې تر جوړيدو پورې د اساسي قانون دکوم فصل او مادې د تعديل يا تعليق واک او صلاحيت نه دی ورکړل شوی. ولسمشر دا واک لري چې دملي شورا د رخصتيو په وخت کې تقنيني فرمان صادر کړي خو، په اساسي قانون کې د تعديل په باب ديوه داسې فرمان د صادرولو حق اوصلاحيت نه لري. په اساسي قانون کې هرډول بدلون اوتعديل يوازې او يوازې د لويې جرګې ځانګړی واک او صلاحيت دی.

**پنځم:** د ولسمشر ځانګړي واکونه چې په اساسي قانون کې په ګوته شوي ، د اساسي قانون د ( ۶۷ مې ) مادې له حالاتو پرته بل کس ته نه ليږدول ( انتقال) کيږي. ولسمشر د ټولو دغو کاکونوله مخې د ملت او ولسي جرګې په وړاندې فردي مسئوليت لري. ولسمشر نشي کولای چې محکمې ته ووا يي چه زه ( ولسمشر) د خپلو پيخوس سلنې واکونو مسئوليت په غاړه لرم او دهغو نورو پينځوس سلنې مسئوليت د اجرائيه رئيس په غاړه دی ځکه چې ما (ولسمشر) د مصلحت ( سياسی موافقتنا مې) له مخې دولسمشر (۵۰) سلنه واکونه اجرائيه رئيس ته ليږ دولي دي.

**لنده داچې: د ۲۰۱۴ کال په ټولټاکنو کې ولسمشرۍ څوکۍ ته دوو نو ماندانو ( ټيمونو) ديوه ناروا سياسي جوړ جاړي په ترڅ کې چې د سياسي موافقتنامې په نوم يادېږی، د ولسواکۍ اصل تر پښو لاندې کړی ؛ له اساسي قانون نه يې ښکاره اوبربنده سرغړونه کړې او په لوی لاس يې په هيواد کې د واک ، د واک د مشروعيت او په ټوليزه توګه د اساسي قانون د نظام بحران را منځ ته کړی دی**

اوس، سياسي موا فقتنامې د افغانستان داساسي قانون ځائ نيولی دی نو ځکه، تصادفي نه ده چې ځيني سياسي ډلې د ملي يو والي د حکومت د کار موده دوه کاله ګڼي او وايي چې دغه حکومت نور دسياسي موافقتنامې پر بنا هم مشروعيت نه لري. د دغه بحران ښکاره بيلګې دادي چې د ټاکنو د قانون

پر سر د ولسمشر ، اجرائیه ریاست ، ملي شورا او دټاکنو د خپلواک کمیسیون تر منځ د ژور اختلاف په وجه د ولسي جرګې لپاره ټاکنې پر خپل وخت تر سره نشوې او د دولت مقننه قوې (د ولسي جرګې موجود ترکیب) خپل مشروعیت او قانونیت له لاسه ورکړ؛ د ټاکنو قانون د ولسي جرګې د کار په وروستي کال کې د ولسمشر د فرمان له لارې تعدیل شو. اوس د دولت اجرائیه څانګه دولسي جرګې واکونه ننګوې او ددې جرګې لخوا له ځینو وزیرانو څخه د باور درایې بیرته اخیستل نه مني. ددولت ددرې ګونو څانګو تر منځ د واک دویش انډول مات شوی دی. د اساسي قانون د لویې جرګې را غوښتل هم له قانوني اړخه ستونځمن دي.

## ج: جګړه.

لکه مخکې چې وویل شول جګړه یو له هغو سترو لا ملونو څخه ده چې زمونږ دملک دولتي واکمني( دولتي حاکمیت) اومشروعیت یې له ربښتینی ګواښ سره مخامخ کړی دی. وا یې: جګړه دسیاسي مبارزې قهرجن شکل دی. جګړه کیدای چې د کورني (داخلي) سیاسي تاوتریخوالي، د بیلا بیلو سیاسي او ټولنیزو ډلو د ګټو د ټکر په وجه را منځ ته شوې وي او یا د بهرنی لاسوهنې او تیري ( تجاوز) زیږنده وي.
داچې جګړه زمونږ په هیواد کې یوه کورنی ښځره ده اوکه بهرنی تیری اویا دواړه ، زه یې دلته د څیړلواو سپیړلو اړتیا نه وینم ځکه چې د کنفرانس له محال ویش نه وتلې موضوع ده خو، شک نشته چې دغه جګړه د افغانانو په لاس روانه ده او قربانیان یې هم افغانان دي. دا جګړه زمونږ په ملک اوکور کې روانه ده؛ زمونږ ملک او زمونږ کور ورانوي؛ دې جګړې زمونږ ملي خپلواکي، ملي او دلتي واکمني نیمګړې اوکمزوره کړې؛ په ملي او نړیواله کچه یې د نظام مشروعیت تر پوښتنو لاندې را وستی دی.
کله چې دټولنې یوه ډله وګړي په هر دلیل چې وي وسلې ته لاس اچوي او د ملک ځینې سیمې د اوږدې مودې لپاره د دولت له واک او کنترول نه باسي ؛ پر له پسې جګړه ایز خوځښت لري نو د حکومت د مشروعیت پوښتنه هرو مرو منځ ته را ځي. نن د دولت وسله وال مخالفین پخپل وار په افغانستانکې دواک په یوه جلا مرکز اوښتي دي. د هیواد په نیږدی ۳۰ سلنه خاوره کې ځانګړي اداري او حقوقي تر تیبات لري.
د افغانستان واکمنان او همدا شان دافغانستان بهرني ملاتړي دا تریخ واقعیت مني چې د بهرنیو ځواکونو له شتون ( حضور) پرته دملي یووالي حکومت د افغانستان دولتي حاکمیت نشي خوندی کولای. د دې مانا (معنی) دا ده چې د ملي یو والي حکومت پراخ ولسي ملاتړ او په بله ژبه بشپړ مشروعیت نلري. هیر مو نشي چې دموکراتیک مشروعیت د حکومت څخه د و لس د اکثریت وګړو د ملاتړ په معنا دی.
د کنفرانس درنو برخه والو!

په مخکنیو خبرو کې مې هڅه وکړه چې په افغانستان کې د دولتي واکمنۍ او د واک د مشروعیت به وړاندې پراته خنډونه او ستونځې را بر سیره کړم. داچې دا هڅه بریالۍ وه او کنه، قضاوت یې تاسو ښاغلو پوهانو او دنظر خاوندانو ته پرېږدم.

**اوس پوښتنه داده چې زمونږ په ملک کې د دولتي واکمنۍ د پیاوړتیا اوښپړتیا ؛ دواک د دموکراتیک او قانوني مشروعیت د تامین لپاره څه باید وشي** کومې لارې - چارې اړینې او شونې (ممکن) دي؟

لارې- چارې کیدای شي چې ښکلې، هڅونکې اوپارونکې وي خو عملي نه وي. ځینې وړاندیزونه کیدای شي چې هم هڅونکي وي او هم عملي خو، زمونږ ولس هغو مخو (هدف) ته ونه رسوي چې تمه یې لري. شک نشته چې خلک د ملي یووالي له حکومت نه ناهیلې شوي او نا راضه دي خو، هغوی یوازې د حکومت اوپه حکومت کې د ځیرو بدلون نه غواړي. خلک غواړي چې زمونږ په ملک کې سوله او سیاسي تیکاو ( ثبات ) راشي؛ دوګړو تر ټولو لمړنۍ اواساسي حق یانې دژند حق خوندي شي. ملي او دولتي واکمني د ملک په هرګوټ کې خپره شي. په دې مانا چې دولت د هیواد په ټوله خاوره کې د زور کارو ل ( (قهر مشروع) پخپل انحصار کی راولي اوولس د جګړه مارو ،زور واکانو اوقومي ما فیا له منګلو خلاص شي؛ فساد له منځه لاړ شي، وګړو ته دکار اوسوله ایز ژوند موکه برابره او دفقر کچه راکمه شي؛ د قانون واکمني او دښې حکومتولۍ اصل پلی شي. ملت محوره سیاست اوفکر وهڅول شي؛ قومي، ژبنیو، سیمه ایزو اومذهبي توپیرونو ته دلمن وهلو او پردې بنا نادریو او شخړوته موکه ( زمینه) ورنکړل شي؛ دافغانستان دفاعی او امنیتی سکتور غښتلی شي داسې چې نور دکورني امنیت او د ملک دحریم څخه ددفاع لپاره بهرنیو ځواکونو ته اړتیا نه وي اوبهرنۍ مرستې په جګړې نه بلکه د ملک په آبادۍ ولګول شي .

زما په اند کومې طرحې چې په روان کال کې د ملي یووالي د حکومت د بدیل اویا مشروعیت لپاره وړاندې شوې که عملې هم شي، زمونږ ټولنه هغو مخو ته چې پورته په ګوته شوې، نشي رسولای. دا د بیړنیو لویو جرګو اود لنډ محاله حکومتونو دجوړولو نظریې اوطرحې په هیواد کې د دایمي سولې اوثبات د ټینګښت، دملي واکمنۍ او د قانون دواکمنۍ د پیاوړ تیا لپاره نه بلکه د قومي اوتنظیمي ډلو ټپلو تر منځ د واک دیوه نوی " آرایش" او نا قانونه ویش، په نظام کې د شریکو ډلو د خپلمنځي شخړود هوارۍ او دهغوی دنا روا کټو او واکمنۍ د خوندي کولو په مخه وړاندې کیږي.

مونږ په تیرو پنځه لسو کلونو کې د بیړنیو جرګو، د نړیوالې ټولنې تر سیوري لاندې دلنډ محاله او منځمهاله ادارو، نیمګړو ټولټاکنو ، ایتلافي او دملي یووالي د حکومتونو بډایه تجربو لرو چې هر ځل یوازې ځینې ځیرې بدلې او رابدلې شوي خو، د افغانستان سیاست بدل نشو او واک په ریښتیني ټوګه ملت ته ( دملت واقعي استازوته) ونه لیږدول شو.

هماغه د نویمو کلو نو جګړه ماران ، جهادي او قومي ما فیا اوبې وسه او نا ژمن تکنو کراتان چې ځینو یې دقومی رایو (قومی رای بانکونو) اونوریې د رشوت اویا ځانګړو اړیکو ( شبکو) له لارې د وزیرانو،

دولسمشر سلاکارانو، مشورتي شورا ګانو، دولسمشر دځانګړو استازو په توګه او يا په زور سره د يوې نا قانونه موازي دولتي اداري په جوړولو سره په واک کې ور ګډ شوي دي.
ښکاره د چې ، د اساسي قانون هغه لويه جرګه به چې د ښاغلو ډاکټر اشرف غني او عبدالله عبدالله تر منځ د سياسي موافقتنامې پر بنا د اجرائيه صدراعظم دڅوکۍ اوواکنو پر سر دبحث لپاره جوړه شي، د افغانستان دوولتي واکمنۍ او نظام د مشرعيت ستونځه هواره نکړي.
ښايي د اجرائيه صدراعظم دڅوکۍ په باب د لويي جرګې بحثونه او پريکړې په افغانستان کې دواک ستونځه نوره هم پيچلې کړي. دغه لويه جرګه پرته له دې چې ديوه کس ( شخص ) لپاره څوکۍ او واکونو تصويب کړي، بله اجندا نه لري. دنظام بدلون، دسولې ستراتيژي، دښې حکومتولۍ او د قانون دحاکميت اونورو ملی مسالو په باب بحثونه د دغه لويې جرګې په اجندا کې نشته.
د جرګې يوازنۍ پايله او نتيجه به دملت لپاره داوی چې اجرائيه رئيس ته به له دې وروسته " اجرايي صدر اعظم " وايې اوبس.

**دلوی جرګی را غوښتل او په اساسی قانون کی تعديل بايد د ملی اړتياوو او د ملک د لوړوګټو پر بناوی نه د افرادو اوډلو د ناروا غوښتنو د قانونی کولو لپاره.**

**زما په اند،**

د هيواد په اوسنيو ترينګلو حالاتو کې د ملي يووالي دحکومت لپاره يو **دموکراتيک بديل** نشته او يا نا شونی دی. دملي يوالي له حکومت نه هم د هغه خپلمنځي تضاد ته په کتو د يوه ژور بدلون او " چرخش" تمه نه کيږي.
ښه به دا وای چې د افغانستان واکمنان (دملي يووالي د حکومت مشران) د اساسي قانون لاری ته را ګرځيدلی وای؛ "موازی حکومت" ياني د اجرائيه رياست او د " وزيرانو د شورا " په نوم جوړښتونه ړنګ شوي وای؛ ځاکل شوي ولسمشر ډاکټر غني ته موکه (فرصت) ورکړل شوې وای چې خپله کابينه جوړه او د " تداوم اوبدلو" ميثاق پلی کړي. د اجرائيه رئيس تيم کولای شي چې له حکومت څخه بهر يو غښتلی اپوزسيون جوړ کړي. ښکاره ده چې ښاغلی عبدالله او دهغه تيم دا طرحه نه مني نو په دی صورت حال کې ، دملي يوالي حکومت ته ښايي چې د ملک د ورځنيو چارو د پر مخ بيولو تر څنګ دوه اساسي کارونه وکړي:

**لومړی**- د افغانستا ن د سياسې او دولتي ايليت ( د ټولنی دسياسی قشر) تر منځ او همدا شان د دولتي واک د درې ګونو څانګو تر منځ د افغانستان دسترو ملي مسئلو او په ملک کې د بحران دکابو کولو په باب يوګړ نظر او اجماع جوړه کړي چې دا به څه نا څه په ټولنه کې د حکومت له اعتبار او توريتې سره مرسته وکړي.

**دويم**- حکومت باید پر سوله "تمرکز" وکړی. په لیکلې بڼه د سولې یوه هر ا ړ خیزه ، ریښتینه، واقعبینانه او عملي تګلاره وړاندې کړي او د دوو راتلونکو کلونو په ترڅ کې ( دولسمشری لپاره تر نوبتي ټولټاکنو پوری) په هیواد کې د ټول شموله، سر تر سري، آزادو او رڼو ټولټاکنو زمینه برابره کړي.

**د افغانستان په اساسي قانون او دټاکنو په قانون کې باید د ډادمنې سولې او ثبات په مخه (مقصد) اود ټولنې د اړتیاوو سره سم، دملت پر محور، دقانون پر وړاندې د وګړو دبرابرۍ او ټولو وطنوالو (شهروندانو) ته دیوشان فرصتونو د برابرولو د اصولو پر بنا، بدلون راشي داسې چې واک په ریښتینې توګه ولس ته ولیږدول شي. ملي اودولتي واکني ټینګه شي؛ جګړه مارانو( جنګسالارانو) او جنایت کارو عناصرو ته په هر راز ټاکنو کې د ګډون لاره د قا نون په کچه وتړل شي او په دې توګه ددولت درۍ کونو ځانګو ته د هغوی د ننوتلو مخه بنده او حاکمیت ته یې دپایښت ټکی کیښودل‌شي. پرته له دې به زمونږ ملک او هیواد وال ښه ورځ ونه ویني.**

نن، د ملي یو والي حکومت دسولې سترا تیژي نه لري. دا خبرې چې ددولت وسله وال مخالفین دې وسلې پر ځمکه کیږدي، د بهرنیو ځواکونو شتون ، دافغانستان اساسي قانون، د تیرې یوې لسیزی لاسته راوړنې او دملي یووالي حکومت دې ومني، دسولې سترا تیزی نه ده. دا دملت تیر ایستنه او دځان غولول دي.

د تیرې یوي لسیزې لاسته واړنې مهمې دي خو د هغو نا خوالو، زیانونو او ورانیو په برتله چې جګړې زمونږ ملت او هیواد ته اړولي ، د پام وړ نه دې. زمونږ شا وخوا ۵ ملیونه هیواد وال له خپل ټا ټوبي څخه بهر ته کډه شوي او نیږدی دوه ملیونه په هیواد کې دننه بې ځایه شوی. ځوان نسل مو له وطن نه د تیښتې په حال کې دی. قومی اوژبنیو ناندریو اوشخړو زور اخیستی او زمونږ د ولس ملي یوالي ، ملي هویت او ملي ارزشتونو ته یې ریښتینی ګواښ را منځ ته کړی دی. ملي او دولتي واکمنې کمزورې او د نظام مشروعیت مو نیمګړی دی، دقانون حاکمیت نشته. د ګړو لمړنی حق یانې د ژوند حق خوندي نه دی.

د جګړې بیه د سولی تر بیې ډیره او په کړاتو- مراتو لوړه ده. نن، جګړه په یوه ملي ناورین اوښتې او دا زمونږ په هیواد کې د ټولو ستونځو مور ده.

د "سیګار" دوروستی ریپوټ په حواله چې (د ۲۰۱۶ کال د اوګست ۹ مه) خپور شو، د روان میلادی کال په آتو میاشتو کی ۲۰۵۲۳ افغان پو ځیان وژل شوی او ټپي شوي دي.همدا شان، په دی موده کی نیژدی ۹۰۰۰ ملکی وګړی مړه اوټپي شوی دی. د طلبانو مړی او ټپیان خو چې هغوی هم زمونږ دوطن وګړي دي،څوک نه شمیری.

دولت د هیواد تر یو شپیته لږ څه زیاته خاوره په واک کې لري. ۳۹ سلنه نوره یا د ددلت د وسله والو مخالفینو په لاس کې ده اویا د جګړې تود ډګر دی.

اوس، په داسې حالاتو کې که بیړنۍ او یا نوبتي ټو لټاکنې هم تر سره شي، د دو لتي واکمنۍ (حاکمیت) او نظام د مشروعیت ستونځه په بنسټیزه توګه نشي هوارولای .

**په ځو ټکو کې، د دو لتي واک او دواک د مشروعیت د بنسټیزې هوارۍ (حل) لار داده چې:**

**١- ملت محوره سیاست غوره او وهڅول شي. قومي سیاست ته دپای ټکی کیښودل شي؛**

**٢-په هیواد کې ټول شموله، سر تر سری او دادمنه سوله تامین شي؛**

**٣- دآزادو، ټول شموله اورڼو ټولټاکنو له لارې دولتي واک په ریښتینې توګه ولس ته ولیږدول شې. د قانون د وا کمنۍ ( Rule of Law ) اصل پلی شي.**

مننه